ماخذ تحقیقی مجلہ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-09

OPEN ACCESS

CC BY NC

**رضوان اللہ شمال**

اسکالر پی ایچ۔ڈی، شعبہ پشتو، یونیورسٹی آف مالاکنڈ۔

**ڈاکٹر قدرواحد (سمندر یوسفزئی)**

لیکچرار، شعبہ پشتو، یونیورسٹی آف مالاکنڈ۔

# "بیاض " د خوشحال خان خټک ورځليکونه/يادليکونه

**Rizwan ullah Shamal ***
PHD scholar Department of Pashto University of Malakanad.
**Dr Qadar wahid( Samandar Yousafzay)**
Lecturer Department of Pashto University of Malakanad.

***Corresponding Author:**

## "Bayaaz", The Memoirs and Diary of Khushal Khan Khattak

Khushal Khan Khattak is regarded as a genius and representative figure of Pashto poetry and literature in Asian classical literature due to the comprehensive range of his thematic content. Based on his intellectual diversity, stylistic uniqueness, metrical innovations, and genre experimentation, Khushal Baba holds the distinction of being a pioneer. This research paper attempts to critically and analytically examine one of Khushal Baba's lesser-known works, commonly referred to as "Bayaz" which is considered one of the earliest examples of diary and memoir subgenres in Pashto autobiographical literature.

**Key Words:** *Khushal Khan Khattak, memoir and Diary, Pashto literature.*

د پښتو ادب په تاريخي بهير کښې خوشحال خان خټک (۱۰۲۲-۱۱۰۰ هـ) د تورې او قلم د خاوند په حېث پېژندګلوي لري ۔ توره يو په دې معنې چې د

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-09

ماخذ تحقیقی مجلہ

توري خاوند وۀ بل په دې معنې چې قلم يې لکه د تورې ( سياسي ، سماجي ، مزاحمتي ، اصلاحي ، شعوري او قامي بېدارئ) کارولے ـ خوشحال بابا په خپل شعري قالب کښې د فکري/ موضوعاتي thematic تنوع په اساس د ايشيا خصوصاً او د نړيوال ادب په نابغه ؤ ليکوالانو کښې شمېرلے شي ـ خوشحال خان خټک پښتو ادب ته د خپلو صنفي ، هيئتي ، فني، فکري او موضوعاتي بخښنو نه خپله هم خبردار وۀ او هغۀ ته دغه ادراک د هغۀ د شعوري هڅو هغه ځانګړنه ده چې په اساس يې نۀ بل خوشحال پېدا شۀ او نۀ يې د ادبې دورې متبادل ـ ځکه خو د نظم ،نثر او خط په ضمن کښې په پښتو د" خپل بې حسابه حق " زبادنه کوي ـ په پښتو ژبه او ادب د خپلو احسانونو، بخښنو او ورکړو کومه زبادنه کوي نو د موضوعاتي تنوع ( سياست ، سماجيات، مذهب، طب، جغرافيه، معاشيات، تصوف، حماسيepic، جماليات، اخلاقيات) ، د نوو اصنافو ورکړه او پېروي ( قصيده ، رباعي ، قطع، مثنوي ، سفرنامه، رپورتاژ، ورځليکونه ـ يادليکونه ) ، د نوو بحرونو اختراع ، املائي هڅې ( زنځيرئ ) ، ژباړې ( نام حق، هدايه کفايه) په اساس د هغۀ دغه ورکړې او بخښنې په ايکي سر داسې لوېې ځانګړتياوي دي چې نۀ ثاني لري او نۀ مثال ـ د هغۀ چهاپ همه کتابونه او ادبي اثار په څۀ نا څۀ حواله خپل منفرد حېثيت لري ـ

د خوشحال خان خټک ناچاپه يا ورک اثارو کښې د "بياض" په نوم يو اثر چې افضل خان خټک په خپل کتاب " تاريخ مرصع " کښې بار بار ذکر کړے او اقباسات يې ترې کله کټ مټ په صيغه تکلم او کله يې د متن مدعا په صيغۀ واحد غائب کښې رانقل کړي زما د دې څېړنليکنې مدعا د خوشحال خان خټک د هم دغه ورک کتاب/اثر "بياض" د متن د تجزيې په اساس د صنفي تعين ده. په پښتو ادب کښې د خپل ځان ،اندونظر ، معروضي حالاتواو تاريخي واقعاتو د بيان په حواله د خوشحال خان خټک دغه ورځليکنې ،يادليکنې د پښتو د ځانليکنيز ادب / autobiographical literature د بنياد تيږه ده ـ پښتو ادبياتو کښې د ژوند ليکنيز اثاروbiographical contents ړومبئ نخښې د داريوش ۵۲۲- څخه ۴۸۶ کښلي د بيستون د هغۀ کتبو/ ډبر ليکونو نه کيږي په کومو کښې چې يې فرامين سلطنت او د ځان په حقله اخلاقي اطوار ليکلي وۀ په دغه ډبر ليکونو کښې د پښتو ادب د محققينو په نزد درې جملې په پښتو ژبه ليکل شوې دي په دې حقله عبدالحئ حبيبي د اولډ پرشن مولفه کنټ مطبوعه ۱۹۳۵ امريکا د ص ۱۲۹ په حواله ليکي ليکي ـ

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-09
ماخذ تحقیقی مجلہ

" لوي داريوش د ايران د هخا منشي کورنۍ يو مشهور پاچا دي، چي د ۵۲۲ ق ، م څخه يي تر ۴۸۶ ق ، م پوري سلطنت کړي دي ـ د ده په امر د بغستان (بيستون ) پر غره يو ډبر ليک کيندل شوي دي او په څلورم ستون او ۶۴۱۴۳ بند کي يې داسي يوه اخلاقي حماسه ليکلي ده ( داريوش باچا وائي : اروزمدا او نورو بغانو(خدايانو)څکه زما مرسته وکړه ، چي نه اړيکي وم، نه دروهونکي وم ، نه ځورونکي وم ،نه زه، نه مي کورنۍ له رښتيا څخه واوښتو ) ـ " [1]

هر څو که دغه ډبر ليک درې مصرعي يا جملي د يو بشپړ خودنوشت حېثيت نهٔ لري خو د خپل ځان په حقله دا په ميخي رسم الخط کښي په پښتو ژبه ړومبے اظهار دے چي که يو خوا ترې د پښتو ژبې د تحريري قدامت اندازه لگي نو له بلي خوا ترې په پښتو ژبه کښي د ځان په حقله تر معلوم تاريخه ړومبے ځان ليکنيز / Autobiographical اظهار کيږي ـ دې نه پس د سلېمان ماکو په " تذکرة الاوليا" ۶۱۲ هـ کښي يي د څلورو شخصياتو (۱) شېخ بېټني ، (۲) ملک يار غرشين (۳) شېخ اسماعيل (۴) قطب الدين بختيار په حقله په نظر راځي چي په دغه اووۀ دريافت شوي صفحو کښي د مذکوره اشخاصو په حقله يي معلومات په ډاگه کړي دي ـ او په دې بنياد د" تذکرة الاوليا" نه تر پټې خزانې راتېر د موجوده زماني د همه ؤ تذکرو مواد ژوند ليکنيز اثار / Biographical contents لري ـ البته دغه اثار د ژوند ليکنې د تذکره نگارۍ د صنف و هيئت سره رشته لري ـ په پښتنه سيمه که چا په ړومبي ځل د خپل ځان ، ژوند او حال په حقله څۀ ليکلي دي هغۀ بايزيد انصاري / پير روښان په خپل کتاب حالنامه کښي ليکلي دي چي بيا دغۀ کتاب د پير روښان مريد علي محمد مخلص د بايزيد انصاري د مرگ نه پس سر ته رسولے او د هغۀ د مريدانو ، زامنو ، نمسو او مسلک حال او مبارزو احوال يې بيان کړي ـ په دې حقله محمد اکبر کرکر ليکي ـ

" دغه اثر (حالنامه ) د بايزيد انصاري دنورو اثارو په پرتله لکه خيرالبيان ، مقصودالمؤمنين، صراط التوحيد او نورو په څېر د عقيدې او ايمان منظم بيان نۀ دي ـ بلکي د هغه په عقائدو سر بېره د هغه د ژوند او د هغه د اولادونو د ژوندانۀ او مبارزو بيان هم دے ـ "[2]

هر څو که حالنامه په پښتنه سيمه د يو پښتون ليکوال ړومبے د ځان ليکنې / Autobiographical اثر دے خو چون دا کتاب په فارسي ژبه کښي ليکلے شوے نو مونږ يې د پښتو ادبياتو په تاريخ کښي د ژوند ليکنې / Biographical

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-09
ماخذ تحقیقی مجلہ

او ځان لیکنې Autobiographical/ په ضمن کښې په باقاعده توګه نۀ شو شاملولے ـ د حالنامې د متن ، اهمیت او ژبې په حقله څېړنوال محمد عارف غروال لیکي ـ

" د بایزید انصاري په اثارو کښې " حالنامه" ډېر معتبر او باوري اثر دے چې بایزید انصاري د خپل ژوند او جدوجهد ټول حالات او پېښې په فارسي ژبه پکښې لیکلي او نوم يې پرې " حالنامه" ایښې دې ـ د دې اثر لومړی برخه پخپله د بایزید روښان له خوا کښل شوې ـ " [۳]

هر څو که حالنامه په فارسي ژبه لیکلے شوي او مونږ يې د ژوند لیکنې او ځان لیکنې په باب کښې د پښتو ادبیاتو په تاریخ کښې نۀ شو شاملولے خو حال دا دے چې عین ممکن ده چې د حالنامې د لیکنې نفسیاتي تشویق د هغۀ دور او ورپسې دور په لیکوالانو کښې ضرور وۀ چې اخون درویزه " تذکرة الابرار والاشرار" لیکي او یا بیا خوشحال خان خټک د خپل ژوند په حقله د " بیاض " په صورت خپل یاد لیکونه/memoir او ورځلیکونه/Diary لیکي ـ نو په بلواسطه طور په پښتو کښې د ځان لیکنې روایت ته " حالنامه" لار سموي او بنیادي تیګه اړدي ـ په پښتو ژبه کښې په باقاعده ډول که د چا پښتون لیکوال د ځان لیک/ Autobiography نمونه او اثر په نظر راځي نو هغۀ د توري او د قلم خاوند خوشحال خان خټک دے چې د خپل ژوند، خاطرو او واقعاتو روداد يې په یو "بیاض" ډائري/رجسټر/نوټ بک کښې لیکلے پرېښے چې افضل خان خټک يې اقتباسات په " تاریخ مرصع "د خپل ضرورت/ حوالې په موقع کټ مټ رانقل کړي ـ په تاریخ مرصع کښې د خوشحال بابا د بیاض نه د منقول متن په حواله دوست محمد خان کامل مومند لیکي

"تر څو چې د بیاض تعلق دے هغۀ د ځاني او خپلو دوستانو د حالاتو د یادداشت په انداز کښې لیکلے شوے او د داخلیت رنګ پکښې ډېر ځایه ځلاند دے سره د دې چې تقریباً ټول ضروري واقعات پکښې ښودلے شوے دي هغۀ ډېرې خبرې هغۀ تفصیلات چې د تاریخ متجسس طالب علم يې له مورخه توقع لري نشي پکښې بیاموندلے کېدے ـ "[٤]

یاد محقق د خوشحال خان خټک د سوانح حیات (اردو) په ضمن کښې د خوشحال بابا د ادبي اثارو د پېژندګلوۍ په باب د بیاض د عنوان لاندې هم لیکي چې

" بیاض خان علیین مکان کے ذاتی و خاندانی حالات اور قومی جدوجہد کے

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-09
ماخذ تحقیقی مجلہ

واقعات جو اس نے وقتاً فوقتاً لکھے یہ کتاب بھی نثر میں ہے اور اس کے اہم ترین ادبی اثار میں سے ہے جو ایک بہت ہی قیمتی تاریخی دستاویز ہے۔ -"[۵]

تر څو چې په تاريخ مرصع کښي د بياض د منقول متن د صنفي تعين خبره ده په دي حواله ډېرو کمو ليکوالانو ،محققينو دي پله نظر کړے دے - دغه منقول متن د خپل تفهيم له رويه چا سفرنامي ګڼلي چا رپورتاژونه او چا تاريخ - خو په حقيقت کښي د بياض د منقول متن د خدوخال او بيان کړي احوال نه دا اندازه لګول ګران نهٔ دي چي دغه متن په اصل کښي د ځانليکنيز اثر/ autobiographical contents د ذيلي او ضمني اصنافو خاطرو/ يادليکونو/memoirs او ورځليکونو/ Diaries صنفي کړهٔ وړهٔ لري - فاضل محقق رشيد احمد په دي حقله ليکي -

> " دا د پښتو ژبي وړومبي ژوند ليک ( ځېرنکار د تاريخ مرصع هغهٔ برخه يادوي کومه کښي چي افضل خان خټک د خوشحال بابا د ژوند ، شخصيت او حالاتو واقعاتو بيان کوي. شمال) نه علاوه وړومبے ځانليک ( ځېرنکار د تاريخ مرصع هغهٔ برخه يادوي کومه چي د بياض د صيغهٔ متکلم برخه ده او خوشحال خان خټک پکښي خپلي خاطري / يادليکونه او ډائري/ ورځليکونه تحرير کړي دي. شمال ) هم دے چي د پښتو د نوموړي شاعر،اديب، توريالي او جنګيالي خوشحال خان خټک په خپل قلم ليکلے دے - "[۶]

په تاريخ مرصع کښي د بياض برخه. مهم د تاراګړهـ , هندوکوه نامه.( د هندوکوه لومړے سفر ، د هندوکوه دويم سفر) نسبنامه ،خټکنامه ، د خيبر د جنګ نه پس تر سوات ته د تللو ټول لوي واړهٔ واقعات او ژوند چي د ځانليک د ليکوال د خانداني پس منظر او نسبي شجرو په باب کښي د يو روايتي انداز عنصر ښائي. د خپل خودنوشت سوانح په دغه شعوري تمايل ليکوال نسبنامه ليکلي چي په تاريخ مرصع کښي افضل خان خټک ځيني پوره اقتباسات او ځيني ځاني تصرفاتو سره رانقل کړے دے -

> " افضل خان خټک په تاريخ مرصع کي د نسبنامي په برخه کي صراحت کړي، چي دا د خوشحال خان بابا په خپل لاسليک ده ، خو بيا وروسته يي ځاي پر ځاي خپل خان پکي ښکاره کړي. اما بيا هم بنيادي مطالب د دهٔ دي او فکر کيږي چي افضل خان يي الفاظ هم لږووډېر بدل کړي وو - "[۷]

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-09
ماخذ تحقیقی مجلہ

د خوشحال خان خټک بیاض کښې لیکلي شوي ځینې ورځلیکونه/Diary او یادلیکونه /خاطرې /memoire د جنګي مهماتو یادښتونه remembrance anecdotal دي د تارا ګړ مهم ،د هندوکوه نامه په نوم د هغه سفري یادلیک / travel memoir چې سفرنامه او رپورتاژ ګڼلے کیږي په حقیقت کښې د خوشحال خان خټک د خاطرو هغه نمونې دي چې د هندوکوه نامه په نوم د تاریخ مرصع نه د استخراج په صورت کښې بېل موسوم او مطبوع شوے ۔ په دې حقله محي الدین هاشمي لیکي

" د خوشحال خان خټک دغه یونلیک(سفرنامه) چې پر ۱۰۵۵ هـ،ق کال یې د افغانستان شمالي سیمو ته له سفر وروسته لیکلي،افضل خان خټک په تاریخ مرصع کې خوندي کړي ۔ استاد حبیب الله رفیع هغۀ د بابا یو ادبي اثر په توګه له تاریخ مرصع څخه استخراج کړې سریزه او سپړنې یې پرې کړې او په ۱۳۸۰ لمریز کال د خوشحال خټک د زوکړې څلور سومې کلیزې د نړیوال سیمینار په ویاړ د پښتني کلتور د ودې ټولنې ۔ جرمني له خوا د لاهور په ملت پرېس کې چاپ او خپور شوي دي ۔ "[8]

په تاریخ مرصع کښې چې د خوشحال د ورځلیکونو/ډائرې او یادلیکونو/خاطرو/ memoirs کومه برخه ده هغۀ د تاراګړ د مهم ،د هندوکوه د سفرونو احوال زیر عنوان " اول ځل" او" دوېم ځل" تحت شوي ده د ص نمبر ۲۶۱ نه تر ۲۷۰ پورې اووۀ اتۀ صفحې کېږي چې پکښې ځاے په ځاے د عبارت مېنځومانه افضل خان خټک ځینې تشریحات،او تصرفات کړي دي ۔ هم دغه برخه د خوشحال بابا په کلیاتو کښې سید محي الدین هاشمي د منثورې برخې شپږم ټوک،منثورې نامې په برخه کښې د ص نمبر ۱۴۲۵ نه تر ۱۴۳۶ پورې راوړې دي ۔ یاده دې وي چې هم دغه برخه حبیب الله رفیع د تاریخ مرصع نه استخراج کړې او د هندوکوه نامه په نوم یې د خوشحال خان خټک د یونلیک/سفرنامې په حېث د خپلې سریزې او سپړنې سره د پښتني کلتوري ودې ټولنه جرمني له خوا په ۱۳۸۰ ل کال کښې شائع کړے ۔ په اصل کښې دا د خوشحال خان خټک سفري یادلیکونه/ Travel memoirدي چې سفرنامې نۀ بلکې د خاطرې/یادلیک ځانګړنې لري ۔ د هندوکوه نامې د متن نه یو اقتباس د حوالې په توګه

" په امېد د طعام له لښکره جدا او له تګ وپویه ستړې کېښناستو ،اودس مې تازه کړ ،دوۀ رکعت نفل مې وګذارل لاس مې په دعا پورته کړه ومې وې : یا مسب الاسبابه، که په باب د دې بندګانو ور د رزق

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-09

پرانیزي ډېر په موقع دے باعث به د دېو څو تنو چي وبله سره يو وشي - په دا ميان کښي يو شخص د تاجک پسهٔ تر گردن نيولے په لور د هغي دري چي پکښي قلعه د راجپوتانو وه تهٔ ،هغهٔ شخص مي ځان ته وبالهٔ هر چي يي غوښتل هغهٔ مي ورکړه او منت مي په ځان بار کړ - پسه مي هغهٔ زمان ذبح کړ - لړمون مي يي په اور واچوهٔ لړ. څهٔ وريت شو له اوره مو راواخست او اور مو د لوړې پرې مړ کړ - دوهٔ دري تنه مي بيا روان کړه چي هغو هندوانو ناپکارو ته وواېي چي که يو سړ غله په مهر خرځوئ زرموجود دي مضائقه د زرو نشته،دا بې مروتي چي مو کړې ده چي قلعې ته مو پرېښودو دا ډېره وه - غله له مونږ مهٔ درېغوئ - په زړهٔ يي رحم وشو يو سړ اوړهٔ يي په طريق د ضيافت راستول - هغهٔ يو سړ اوړه او هغهٔ پسه مو قسمت کړل شل تنه چي راسره وو واړو وخوړ،قوت لايموت يي حاصل شو - هغهٔ شپه مو په هغهٔ مکان تېره کړه - " [۹،۱۰]

په داسي حال کښي چي د بياض دغه متن د خوشحال بابا د ژوند او خانداني پس منظر په بنياد د خپل ځانليکنيز اثر په توګه بېل حېثيت لري - مونږ که داسي وغواړو نو د پښتو ادب د نورو ژوند ليکنيز اثارو د متن نه د استخراج په توګه د يو ليکوال ډېر کتابونه جوړولے شو - د تاريخ مرصع په متن کښي د بياض د برخي په حقله رشيد احمد ليکي

په دې بياض کښي خوشحال خان د خپل ژوند حالات ليکلي دي دغه بياض خو زمونږ سره نشته البته په تاريخ مرصع کښي افضل خان ختک د دې نه استفاده کړې ده او د مخ ۳۲۳ نه واخله تر ۴۴۲ پورې د خوشحال خان ختک د ژوند د حالاتو سره سره يي نور تاريخي واقعات هم ليکلي دي. په دې کښي يي "سوات نامه هم راوړې ده - " [۱۱]

فاضل محقق بريالے باجوړے د بياض د متن د صنفي کړو وړو په حقله په خپل ځېړنيز اثر" پښتو ادب کښي ځانپېښي " کښي ليکي

" د خوشحال خان ختک په دغو ياداشتونو کي چي دځان پېښي ( ځانليک/ خودنوشت / اتوبيوګرافي ) شکل لري د خپل ژوند او کورنی احوال راخستي - د خپل وړکتوب، ځوانی او خپلي حالات کورنی او هغه پېښي چي په ده تېرې شويي رانقل کړي دي - "[۱۲]

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-09


په تاریخ مرصع کښي د خوشحال بابا ځيني متن د هغۀ په حواله په واحد غائب صيغه کښي په خپله وېنا راجوړوي او بيا د بياض نه د خوشحال خان خټک د خپلي خاطرې اقتباس کټ مټ نقل کوي ۔

دغه منقول متن چي د ځانليکنيز ادب/ Autobiographical literature د ضمني اصنافو ورځليک/ډائري او خاطرې/يادليک/ memoir صنفي بڼه او هېئت لري په حقله يې سيد محي الدين هاشمي ليکي

"په پښتو کي د خاطرو ليکلو پخوانی بېلګي د افضل خان خټک په تاريخ مرصع کي د خوشحال خان خټک له بياضونو ځيني اقتباسونه ګڼلي شو چي په هغو کي يي ځيني سرګزشتونه او خاطرات بيان کړي دي ۔ " [۱۳]

او بيا هم دغه عبارت چي د خېبر جنګ نه پس تاريخ مرصع د خوشحال خان خټک د بياض نه ليکلي احوال رانقل کوي د يو ځانليکنيز اثر autobiographical / contentټول کړۀ وړۀ لري چي يواځي د حالاتو او واقعاتو ( معروض/ خارج ) بحث نۀ کوي بلکي د خپل اندونظر ( موضوع/ داخل ) څرګندونه هم کوي ۔ د خپل اند perspective /له خوا واقعات هم د تاريخ کړی کوي چي د خوشحال خان خټک شخصي ذاتي اپروچ ترې څرګنديږي نۀ چي تاريخي في الواقع صداقت دې ولري ۔ دغه د جنګي صورتحال احوال او واقعاتو خاطرې د کړۀ ځانليک/خودنوشت/ autobiography په نسبت د يادليک/memoir ځانګړني لري په دې چي ځانليک د ژوند د تسلسل په بنياد ليکلے شي اود جنګ احوال د ژوند غونډي او هومره تسلسل نۀ لري په دې حقله سيمموئېل هائينس ليکي ۔

“Autobiographies narrate continuous lives; but a war narrative concerns a separate life that, however vividly it remains in the memory, is not continuous with the life the teller lives as he writes.”[14]

د دغه يادښتونو / خاطرو واقعات يې په بياني انداز د متکلم په صيغه کښي په تفصيل سره راوړي چي د پښتانۀ او مغل سره خپل مېنځ کښي اعتبار پاتي نۀ شۀ ۔ زۀ مغلو بللم خو نۀ ورتلم ۔ زۀ په نظام پور کښي ناست ووم ۔ فدائي خان چي خزانه هندوستان ته وړله زما اولس يې د لوټ کولو صلاح راسره کوله خو د نمکحرامی له وجي مي مناسب ونۀ ګڼله ۔ قصد مي د اټک د نيوو وکړو خو مومندو د مغلو سره ملا وتړله مهابت خان د دهلي نه راروان شۀ ۔ ماته يې خط راوليږلو چي د ملک دبندوبست دمصلحت د پاره راشه خو ما زړۀ کښي د مغلو

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-09
ماخذ تحقیقی مجلہ

دنوکرئ مزے شلولے وو ۔ محمد امین چې هندوستان ته تللو خلکو وسواس ورکوو چې خټک به دې تالان کاندي ۔ خو ولې ما سره يې د اورنګ د قيد په وخت نيکي کړې وه ۔ د خبېر د جنګ نه مخکښې مې هم ورته د جنګ نۀ کولو نصيحت کړے وۀ خو نۀ يې مانۀ ۔ ما يې نېک خواهي غوښته ۔ اوس مې ورته ليکل واستول چې نواب دې بې ويرې تر اټکه تېرېږي ۔ مهابت چې راغے زۀ ترې په زړۀ کښې شکي ووم ۔ اعتبار مې پرې نۀ ؤ ۔ ځان سره مې مصلحت وکړو چې ترې بولاق ته به لاړ شم ۔ لاچې کښې بيمار شوم خوړې لره راغلم. ۔ اشرف خان مهابت خان ته خېر اباد لره ورغے زما د نۀ ورتللو په سبب په باطن کښې ورسره مخالف وۀ ۔ مچلکه يې ترې واخسته چې پلار په خپل جاګير مۀ پرېږده ۔ ما هم اراده لرله چې " دخپل ساعت به تېرووم عمر اخر دے" خو نصيب نوره بازي راپېدا کړه بازيد خان مومند د مهابت خان ملازمت وکړو بهرام او همنواوو يې هم نفاق اغاز کړو ۔ بهرام مهابت ته هم مذکور کړے وو چې که ملک ماله راکړئ پلار او ورور به لاس نيولي درکړم ۔ بهرام خپلي خپلخانو سره په جنګ شۀ ۔ او هم دغسې د مغلو پښتنو خپلو بچو د جهګړو او خپل ذات او دغه واقعاتو کښې د خپلې ونډې او کردار په حواله په تفصيل سره احوال راوړي ۔ ليکي چې

> " زۀ په دوۀ اوره وسوم. يو په دا چې که دا بدبختان دا هسې نۀ کا. بلرپه دا چې که جنګ فساد تر مېنځه ونۀ شي چې د مغل زړۀ به يخ شي. اشرف خان مې منع کړ. بهرام د ځينيو سره سراي لره راغے خاکم شۀ. وروپسې د مغلو فوځ د بهرام په حمايت راغے. که ما حکم ورکړے وے هومره لښکر د اولس وۀ چې بهرام او مغل به يې دواړه سيند ته اچولي وو ولې حکم مې نۀ ورکاوۀ. ما وې ګوندې خېريت شي ۔ "[15]

او هم په دغه روان عبارت کښې د " بندنه پس د خپل عزم "تحت د مغلو سره د رزم ټول احوال ،خاطرې او اندونظر په تاريخ مرصع کښې ص نمبر ۳۷۷ پورې په تسلسل سره افضل خان خټک بغېر د څۀ تصريح اوتخريف رانقل کړے دے ۔

الغرض په تاريخ مرصع کښې د خوشحال خان خټک سره منسوب " بياض" هغۀ د ذاتي احوالو ، ورځليکونو او خاطرو / يادليکونو ډائري ده چې خوشحال خان خټک پکښې د خپل ذاتي ژوند خاطرې ، واقعات او حالات ليکلي دي کوم چې د سياست ، ادب او حکمران طبقې د هغۀ وخت رواج وۀ ۔

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-09

خوشحال خان ختک ته د ذاتي ژوند او تاريخي پېښو د تحرير دغه تشويق د هغۀ وخت د مغولي واکمنو د تزکونو او تاريخونو نه هم شوے وۀ حال دا دے چي د هغۀ په قصائدو کښي هم د هغۀ د ژوند او اند خاکه او تاريخي واقعاتو او معروضي حالاتو احوال هم په صراحت اوکثري مقدار سره درک کېدلے شي - دغه خاطرې / يادليکونه او ورځليکني چي خوشحال خان ختک په خپل دستخطي نسخه / کتاب/ رجسټر / ډائري کښي په خپل قلم ليکلي دي. بياض بللے شي -

## حوالہ

1 عبدالحی حبيبي، د پښتو ادبياتو تاريخ ، دانش خپرندويه ټولنه ۲۰۰۵ ،ص ۳۴۱
۲ محمد اکبر کرگر ، په حالنامه کښي د بايزيد روښان عرفاني او فلسفي ځېره ، د افغانستان د علومو اکاډمی، دوېم چهاپ ۲۰۰۶، ص ۵۲
۳ محمد عارف غروال، سريزه مشموله، حالنامه حضرت ميا روښان ، وزارت اطلاعات و فرهنګ،چاپ ۲۰۰۹، ص ح
٤ کامل ، دوست محمدمقدمه، مشموله تاريخ مرصع افضل خان ختک، يونيورستي بک ايجنسي ، ۲۰۰۶،ص ۲۳
کامل،دوست محمد خان ،خوشحال خان خٹک کی سوانح حیات، یونیورسٹی بک 5ایجنسی، ص ۲۷۸
رشيد احمد ،پښتو کښي ژوند ليک ليکنه، پښتو اکېډمي بلوچستان کوټه، ۲۰۱۶، 6ص ۸۲
۷ نسبنامه ،مولفه حبيب الله رفيع ، دپښتني کلتور ودې ټولنه جرمني ۱۳۸۰ ل ص ۱۴
هاشمي،سيد محي الدين، د خوشحال خان ختک کليات، منثوره برخه، ميهن 8خپرندويه ټولنه جلال اباد،۲۰۱۸
افضل خان ختک، تاريخ مرصع، يونيورستي بک ايجنسي پېښور،مئ ۲۰۰۶ 9،ص ۲۶۵
۱۰ هاشمي،سيد محي الدين، د خوشحال خان ختک کليات، منثوره برخه، ميهن خپرندويه ټولنه جلال اباد،۲۰۱۸،ص ۱۴۳۰

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-09



١١ رشيد احمد ،پښتو کښي ژوند ليک ليکنه، پښتو اکېډمي بلوچستان کوټه، ٢٠١۶، ص ٨١

١٢ بريالی باجوړی، پښتو ادب کي ځانپېښني، ختيځ خپرندويه ټولنه جلالکوټ، ١٣٩۴ ل ل، ص ٢٣

13 هاشمي ، سيد محي الدين ، د نثري ادب ډولونه، وحدت خپرندويه ټولنه جلال اباد، ١٣٨٩، ص ۴۵٣، ۴۵۴

14 Hynes, Samuel.The Soldiers' Tale: Bearing Witness to Modern War. New York 1997: P 8

15 افضل خان خټک، تاريخ مرصع، يونيورسټي بک اېجنسي پېښور،مئ ٢٠٠۶، ص ٣۵٣